## د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې او چلندلارو مرکزونه:

### 1 د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې اوچلندلاروسیمه ایز مرکز - بخارست

**پته**: بخارست، کوڅه واسیلی ستولنیکو، شمیره 15، بلاک 13، بخارست - سکتور 2
**تیلیفون**:021–240 8427
**فکس**:021–240 8510
**بریښنالیک**: c.bucuresti.igi@mai.gov.ro

### 2. د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې اوچلندلاروسیمه ایز مرکز – تیمیشوارا

***پته***: کوڅه آرمونیې ، شمیره 33 ، تیمیشوارا
د تیمیش ولایت
***تیلیفون***:0256.421.240
***فکس***:0256.227.500
**بریښنالیک**: c.timisoara.igi@mai.gov.ro

### 3. د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې اوچلندلاروسیمه ایز مرکز - جورجیو

***پته***: بولیوارد 1907 ، د جورجیو ولایت
***تیلیفون***:0246 – 215056
***فکس***:0246 - 215055
**بریښنالیک**: c.giurgiu.igi@mai.gov.ro,

### 4. د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې اوچلندلاروسیمه ایز مرکز - ماراموریش

***پته*** : کوڅه چیتاتسی، شمیره 1A ، شومکوتسا ماری ،
د ماراموریش ولایت
***تیلیفون***:0262 – 280005
**فکس**:0262 - 280004
**بریښنالیک**: c.maramures.igi@mai.gov.ro

### 5. د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې اوچلندلاروسیمه ایز مرکز - راداووڅ

***پته*** : کوڅه پریلور، شمیره2 ، ردوتس
د سوچاوا ولایت
***تیلیفون***:;0230 – 564462
0230 – 564463
***فکس***:0230 - 564464
***بریښنالیک***: c.radauti.igi@ mai.gov.ro

### 6. د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې اوچلندلاروسیمه ایز مرکز- ګالاڅ

***پته*** : کوڅه سوینیشت ،شمیره۲ ، ګالاتس
د ګالاتس ولایت
***تیلیفون*** : 0236 – 323878
**فکس** : 0236 - 323884
**بریښنالیک**:c.galati.igi@mai.gov.ro

## د پام ور یا مهمې اداری:

### 7.د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري(UNHCR) - په رومانیا کې

***پته*** : د ملګرو ملتونو دفتر ، بولیوارد پریماورې 48 **A**، سکتور 1، 011975
بخارست ، رومانیا
***تیلیفون*** : 7873 201 21 40 + ،
***فکس*** : 1594 210 21 40 +
***د معلومات کرښې*** 651 653 723 40 + :
***ویب پاڼه***: www.unhcr.org/romania.html
**بریښنالیک** : rombu@unhcr.org
د کار ساعت: هره ورځ د سهار 9:30 نه تر مازدیګر 5:30 پورې اود دوشنبې نه تر جمعې پورې

### 8. د کلیسا یوه پراخه تولنه په رومانیا کې - AIDRom

اداروي دفتر: بخارست
***پته***:بخارست، کوڅه الاری چندی
شمیره 14، سکتور 2 ،
***تیلیفون***: 021.212.48.68
***فکس*** : 021.210.72.55
***ویب پاڼه***: www.aidrom.ro
***بریښنالیک*** : et@aidrom.ro
aidrom@gmail.com

### 9. په رومانیا کې دپناه غوښتونکو لپاره ملی شورا (CNRR)

***پته*** : کوڅه ویسپاریلور ، شمیره 19 ، سکتور 2
بخارست
***تیلیفون / فکس*** : 10 62 312 021 4+ ،
+4 031 405 02 75
***ویب پاڼه***: www.cnrr.ro
***بریښنالیک*** : office@cnrr.ro

### 10. د کلیسا پراخه تولنه په تیمیشواره کې AIDRom

***پته*** : کوڅه ګیورګی شینکی ، شمیره 9
***تیلیفون*** : 0256.217.096 ،
***ویب پاڼه*** : www.aidrom.ro
***ایمیل***: aidrom@gmail.com
doru.covaciu@aidrom.ro



UNIUNEA EUROPEANĂ
Proiect finanțat de Uniunea Europeană
Ministerul Afacerilor Interne
Direcția Fonduri Externe Nerambursabile
Ministerul Afacerilor Interne
Inspectoratul General pentru Imigrări
aidrom
ASOCIATIA ECUMENICA A BISERICILOR DIN ROMANIA
FUNDAȚIA
Consiliul Național Român pentru Refugiați
C.N.R.R.

# "په رومانیا کې د پناه غوښتونکو لپاره د مرستې او ادغام خدمتونه

# 2019 – 2020 "ASIST RO"

## د دې پروژې عمومي او اصلي هدف

د پروژې عمومي هدف په رومانیا کې د پناه غوښتونکو د ژوند شرایط ښه کول ، د قانون سره سم د دوی د حقونو او مکلفیتونو په اړه د معلوماتو د وړاندې کولو له لارې ، تولنیزې مرستې ا و تکمیلي مادي خدمات چمتو کول ، او همدارنګه نور ځانګړي خدمتونه دي.

د بودجې منبع:

**د پناه ، مهاجرت او ادغام لپاره صندوق**

**د مراجعې شمیره : *FAMI/19.01.02***

**د دغه پروژې په اساس موږ تاسو ته لاندې خدمات برابر او وړاندې کوو:**

- د پناه غوښتونکی په حیث ستاسو د تولنیز-اقتصادی حقونو او حقوقی مکلفیتونو سره سم( سربیره پر هغو چی د پناهندګی په چلندلاره کی دی) تاسوته د مشورې، مرستې او اضافی آسانتیاو په هکله معلومات؛
- و عامه خدمتونو ته ( د کار بازار ، د پوهنې سیستم ، د تولنیزې بیمې سیستم ، د هستوګنې ځای ترلاسه کول او کلتوري روزنه ) د لاسرسي په برخه کې ملاتړ ؛
- په رومانیا کې ستاسو د ژوند کچې د ښه کولو لپاره اغیزمنه مادي مرسته ؛
- د رومانیایی تولنې سره د پیژندګلوی او بلدتیا فعالیتونه (د ماشومانو او لویانو لپاره د رومانیایي ژبې کورسونه ، تفریحي - کلتوري فعالیتونه ، د رومانیایی تولنې ځانګړتیاو سره د تطابق لپاره د مسلکي مهارتونو وده ، په مرکزونو کې او همدا ډول په تولنه کې د همکارۍ قواعد ).

**Pashtu**

## آیا تاسو په رومانیا کښې پناه غوښتونکی یاست؟

## نوتاسو لاندې ذکر شوی تولنیزحقوق او ژمنی لرئ:

### 1. حقونه :

الف) کولای شي چه د فرهنګي تطابق په فعالیتونو کې برخه واخلې؛

ب) که چیرې تاسو د اړتیا وړ وسایل نه لري نو ستا سو د غوښتنې مطابق، د پناه غوښتنې د چلندلارى په ټوله موده کی ، تا سو سره د اړتیا وړ مرستې کیږي(لکه خواړه ، د ځان ساتنی او د حفظ الصحې توکي ، جامې او بوټان ، ترانسپورت).

ت) که چیرې تاسې د اړتیا وړ مادي وسایل نلرې، اود استوګنې ځای نه لري ، نو تا سو کولای شي د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې په مرکزونو کې ژوند وکړي؛

ث) که تاسو معیوب یاست او معلولیت (ځانګړی اړتیاوی ) لري ، نو تاسو کولاې شې داستوګنې په ځای کی چی کوم امکانات شته له هغو نه برخمن شي اوګټه واخلې ؛

ج) که چیري تاسو کومه لاعلاجه او خطرناکه ( حاده یا کومه مزمنه) مریضي لري چه ستاسو ژوند له ګواښ سره مخامخ کوی نو ستا سو وړیا علاج کیږي (په روغتون کې بېړنی پاملرنه او مرستې تر لاسه کولای شی) او تا سو سره وړیا طبي مرسته هم کیږي. دا ټول علاجونه د عاجلو طبی او اولیه مرستو د ملي سیسټم د پروګرام مطابق تا سو سره کیږي ؛

ح) تاسو کولی شئ د عامې روغتیا په هغوملي پروګرامونو کې شامل شئ چې د ساري ناروغیو د مخنیوي ، څارنې او کنټرول په موخه دي؛

خ) که تاسو معیوب یاست او معلولیت لرې ( ځانګړو اړتیاوو ته ضرورت لرې) نو په دغه صورت کې ستا سو سره مناسبه طبي مرسته کیږې ؛

چ) د موجوده قانون په اساس تا سو سره ټولنیزه مرسته کیږې؛

د) تا سو کولاې شې چه د کار بازار ته لاس رسې ولرې خو په دی شرط چه ستاسو د پناه غوښتنې چلندلاره محکمې ته رسیدلې وې او یا هم ستا سو دپناه غوښتنې نه درې میاشتې تیرې شوی وی او د پناه غوښتنې عمومی دفتر له خوا ستا سو ځواب نه وې راغلې او د ځواب په ځنډیدلو کی ستا سو ګناه نه وې. په دې حالت کې تاسو کولای شي چه ځان ته کوم کار پیدا او کار وکړي او د رومانیا د قانون مطابق تا سو د یو رومانیایی په شان د بې کارۍ د بیمې نظام له تحفظ څخه ګټه واخلې.

ر) که چیري تا سو ماشوم یاست (ستا سو عمر 18 نه کم وې) ، نو د رومانیایې ماشومانو په څیر چه ستونزې لرې د قانون مطابق ستا سو ساتنه کیږې.

ژ) که تاسو کم سنه یاست کولای شی چی د رومانیا دښووني او روزنې په سیسټم کی شامل شی. ددی لپاره کولای شی چی د ژبې زده کونې لپاره وړیا کورسونوته ولاړ شې چی په آخر کې د مسئوول کمیسیون لخوا ارزول کیږې او ستا سو د رومانیایې ژبې د کچی سره سم تاسو مربوطه صنفونو ته لیږل کیږې.

## ټولنیزو حقونو ته لاسرسی او د موادو (مرستی) ترلاسه کولو شرطونه:

الف) د اړتیا په حالت کې تاسو د ټولنیزو ګټو مستحق یاست او د دغه ګټو ترلاسه کولو لپاره تاسو باید درخواست وکړي.

ب) تاسو لاندې یاد شوې مرستو نه ګټه اخیستې شې: ستا سو د غوښتنی په اساس تا سو ته د نفر په سر د خوراکي توکو لپاره د ورځې 10 لي درکول کیږې. د اوړي په موسم کې د جامو اخیستو لپاره هر یو نفر ته 67 لي او د ژمي په موسم کې د جامو اخیستلو لپاره هر یو نفر ته 100 لي ورکول کیږې. او نورو لګښتونو لپاره لکه ځایي ترانسپورت لګښت (د ښاری بسونو ټکټ) ، فرهنګي خدماتو ، مطبوعاتو ، د کوم شي ترمیم او یا د ځان ساتنی لګښتونواو د شخصي نظافتی توکو لپاره د ورځې 6 لي درکول کیږې.

ث) کله چه د پناه غوښتونکو لپاره د استوګنې په مرکزونو کی ځاې نه وی ، د مهاجرینو عمومي دفتر د مالی امکاناتوسره سم له پناه غوښتونکو سره د کور د کرایی لپاره مرسته کوې .

**ج) که چیري تا سو د مهاجرینو عمومی دفترد استوګنې او چلندلارو مرکزونو د داخلی نظم قواعد مراعات نکړې او یا هم د رومانیا قانون تر پښو لاندې کړي ، نو د مهاجرینو عمومی دفتر کولای شی چه تا سو سره کیدونکی مرستې کمی کړي او یا هم دغه مرستې بیخي بندی کړي.**

### *2. مکلفیتونه یا ژمنی :*

**الف) ته مکلف یی چی د رومانیا دولت قوانین مراعات کړی اود پناهندګی په چلندلاره کی د با صلاحیته مسوول ارګان د اقداماتو او فیصلو درناوی وکړی.**

ب) تا سو باید خپله غوښتنه (درخواست ، عریضه) ولیکې او هغه مسئول اورګان چه د کورنیو چارو وزارت مربوط دي وړاندي کړي او خپله هم حاضر شي. **خپل عریضه کي تا سو خپل ټول دلیلونه ذکرکړي** اوصلاحیت لرونکی چارواکي او اورګان ته یی وړاندې کړي او د ګوتې نښه او عکاسي لپاره اجازه ورکړي. **که ستا عمر له 14 کلونو نه کم وي نو ستا د ګوتې نښه نه اخیستل کیږې ؛**

پ) تا سو دا مکلفیت لرې چه صلاحیت لرونکی چارواکي ته د خپل ځان په اړه **بشپړ او واقعي معلومات** وړاندې کړي؛

ث) تاسو مکلفیت لري **چه خپل ټول هغه موجود اسنادونه وسپاری چه ستا سو په باره کې وي او ستا سو موجوده شخصی** حالت سره سمون ولري ؛

ج) که چیري تا سو پاسپورټ او یا نور اسنادونه ولري چه د هغه اسنادونو په اساس **تا سو سرحد نه تیر شوې یاست ، هرو مرو هغه اسناد تسلیم کړي** . تا سو ته د پناه غوښتونکي موقت سند درکول کیږي (د مهاجرینو عمومی دفتر له خوا درکول کیږې او وروسته نوی کیږې ).

ح) تاسې مکلفیت لرې چه د پناه غوښتنې کارونه تعقیب او د استوګنې د هر ډول بدلون په اړه و د مهاجرینو (پناه غوښتونکې) عمومی دفتر ته خبر او معلومات ورکړي؛

خ) د پناه په اړه ، صلاحیت لرونکی چارواکي چه کوم سوالونه له تاسو نه کوې ، د هغه سوالونو ځواب ورکړي.

د) طبي معاینات چه له مخکې نه تعیین شوي وي ، هغې ته هرومرو حاضر شي او که چیري تا سو ته وویل شي چه واکسین وکړي، نو تا سو ، دا خبره قبوله او ځان واکسین کړي.

ذ) تاسو مکلف یاست چی د چارواکو له خوا ستاسو د بدن او شیانو و تلاشی ته اجازه ورکړی.

ز) که چیرى تا سوته په رومانیا کښې قبولی نه درکول کیږې نو بیا د پناه غوښتنې د چلندلارى له بشپړیدو نه وروسته ، د ۱۵ ورځو په موده کې دا خاوره پریږدی. که چیرې ستا سو د پناه غوښتنه ، بی اساسه او غیر قابل قبول وې او ستا سو د پناه غوښتنه په چټکی کړنلاره کې فیصله شې نو په دغه صورت کی د پناه غوښتنی له رد ځواب سره جوخت باید دا هیواد پریږدی.

که چیري تاسو د **پناه غوښتونکو د مرکزونو (کمپونو او د اوسیدوځایونو) قوانین ، قواعد او کړنلاره مراعات نه کړي،** په دغه صورت کې به ستا سو د بد چلند د درجی سره سم دا لاندی ممنوعیتونه وضع شی:

**د ځایي ترانسپورت لګښت (د ښاری بسونو ټکټ) ، فرهنګي خدماتو ، مطبوعاتو ، د کوم شي ترمیم او یا د ځانی لګښتونو او د شخصي نظافتی توکو لپاره د ورځې 6 لي تخصیص شوی پیسی به د یوی نه تر دربو میاشتو پوری تعلیق شی!**

**د 24 ساعتونو او یا 7 ورځو لپاره له کمپ څخه (د پناه غوښتونکو له مرکز نه) لنډمهاله اخراج !**

**د پناه غوښتونکوله مرکز نه دایمي اخراج!**